safar

# اطاعت

## د مینې په خاطر

### د پیل ټکی

خدای مونږ ته وړیا اراده او په شخصي پرېکړو د عمل کولو وړتیا راکړې ده. مونږ هغه څه خوښوو چې مونږ یې غواړو هغه سرته ورسوو! مګر داسې وختونه راځي چې زمونږ غوښتنې د نورو غوښتونو سره ټوپیر لري.
په داسې وختونو کې، زمونږ د اړیکو ماهیت د یو شخص یا نورواشخاصو سره معلومیږي چې د کوم کار د سرته رسولو په اړه پرېکړه کوو او همدارنګه زمونږ ټاکونکی چلند د هغه کار د سرته رسولو دپاره دی.
دا درې لنډ داستانونه ولولئ په دې تړاو هغه پوښتنې چې په پای کې راغلي دي، په اړه یې خبرې وکړئ:

1. د علی مور له هغه وغوښتل چې له ښوونځي څخه سیده کور ته راشي او دکور په پاکۍ کې له هغې سره مرسته وکړي، ترڅو کور یې د مېلمنو دپاره چې وروسته له ماسپښینه راځي، تیار وي.

خو د علی ملګرو هغه ته د لوبو بلنه ورکړه او هغه ته یې وویل: یوازې د یو ساعت دپاره زمونږ سره لاړ شه، وخت به مو ډېر ښه تېر شي. علی پوهېده چې که ناوخته کور ته لاړ شي، مور به یې ډېره په قهر شي او پلار به هم هغه ته سزا ورکړي، خو معلومه وه چې یه قهر کېدل هغه مسئله وه چې په هر حال په کور کې هغه ورسره مخامخ کېده، نو پرېکړه یې وکړه او خپل ځان سره یې فکر وکړ چې دا حق لري چې د خپلو ملګرو سره یو ساعت تفریح وکړي. بیا یې توپ واخیست او منډه یې وکړه.

1. د سیمه یز نوي چارواکي، د لیلا د اوسېدلو په سیمه کې، د موټر چلولو د سرعت حد د بدلولو دپاره سخت قانون پلی کړی دی. په ظاهره کې هغه ستونزه چې لیلا ته پېښه شوې ده باید د خپل کور څخه د خپلې خور کور ته لاړه شي. لیلا د وضیعت ارزونه کوي ـ هېڅوک په سرک کې نه شته. هغه د ژوند په ټولو ناخوالو باندې پوهېږي او په هغو کې د لوېدلو څخه ډډه کوي، هغې کلونو پرته له هېڅ ستونزې په عادی سرعت موټر چلولی، امکان لري چې لیلا نوي مسئول ته رایه ورکړې وي خو نوی قانون ورته بی_معنی دی. په پای کې هغه پرېکړه کوي چې په خپل وخت د خور کور ته ورسېږي نو ځکه په هغه سرعت چې مخکې ورته اجازه وه، موټر چلوي.
2. یعقوب د خپل کار په ځای کې ، په ناڅاپي توګه د یوې مهمې او لوړې پروژې چې کلونه یې د هغه مدریت کړې وو، د خپل مشر له خوا ګوښه کیږي. یعقوب په بشپړه توګه مایوسه شوی وو، ځکه هغه او د هغه ټیم په خورا ښه توګه فعالیت کړی وو او پروژه هم د بشپړېدو په حال کې وه. پرته له دې هغه متوجه شو چې د هغه اصلي رقیب د هغه ځای په پروژه کې نیولی دی، په داسې حال کې چې سبا ټوله ورځ په هغه غونډه کې چې معلومه نه ده چې د څه دپاره ده، هغه باید ګډون وکړي هغه د خپل مشر په دې کار باندې حیران شو، ځکه د هغه مشر د هغه له کاره تل ستاینه کړې وه، هغه ته یې لارښوونه کړې وه او هغه ته یې دا فرصت ورکړی وو، چې وده وکړي او وځلیږي. ایا د مینې نه هغه ډکې خبرې چې مشر یې په غونډه کې تېره هفته د هغه په هکله د ټولو په مخکې کړې وې، د زړه له کومې وې؟ که څه هم یعقوب مایوسه شوی وو، خو پرېکړه یې وکړه چې د خپل مشر پوره درناوی وکړي او خپل ټول کوښښ د سبا په غونډه کې وکړي. په پای کې معلومه شوه چې دا غونډه د مشر د مرستیالۍ دپاره وه چې مشر یې، یعقوب د دې مقام دپاره وړاندیز ورکړی وو.
   - په دې دریو داستانونو فکر وکړئ، د دې هر یو د اړیکو اصلیت په څه شي کې دی؟ د هغوی په اطاعت کولو کې دا صلیت کومه اغېزه لرلې ده؟
   - د اړیکو طبیعت څنګه زمونږ د اطاعت کولو هڅونه باندې اغېزه کوي؟
   - کومې اړیکې تاسو مجبوروي، چې اطاعت ته لېوالتیا ولرئ؟
   - کله چې د اطاعت په کلمې باندې فکر کوئ، کوم فکرونه او احساسات تاسو ته پیدا کیږي؟ کله چې ماشوم وئ، د خپل مور او پلار او هر صلاحیت لرونکي مقام له امرنه چې مو سرغړونه کړې، څه پېښېدل؟

### بحث او خبرې

داسې وختونه شته چې د پورتني قیصې په شان هر هغه څه چې خدای له مونږ غواړي، باید سرته ورسوو. کله چې دا پېښیږي، مونږ د دوو پریکړو سره مخامخ کیږو: هغه کار چې خدای له مونږ نه غواړي چې سرته یې ورسوو، یا هغه کار

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

چې زمونږ خوښيږي .
په داسې وختونو کې، ځيني دليلونه شته چې د خدای لاره د خپلې لارې نه غوره ګڼو، دا دليلونه په لاندې ډول دي:

- د پایلو یا د سزا څخه وېره.
- د انعام د لاس ته راوړلو دپاره لېوالتیا.
- مونږ ګورو چې د خدای لاره غوره ده.
- د خدای په خوشحالولو خوند اخلو.
- باور لرو چې خدای نېک دی، حتی کله چې دا موضوع په پوره توګه نه شو درکولای.
- ستاسو په فکر نور دليلونه شته؟

په حقيقت کې، پورته ټول هغه دليلونه دي چې امکان لري د هغو په اساس مونږ د اطاعت کولو پرېکړه وکړو، خو ځيني پورته دليلونه د نورو نه غوره دي.
د پورتنيو کومو دليلونو سره تاسو زیاته اړیکه لرئ؟
د خپل ژوند په هکله یوه بېلګه ووایئ هغه وخت چې د خدای لاره مو د خپلې لارې نه غوره وګڼله. کوم دليل لامل شو چې تاسو د خدای اطاعت وکړئ؟

## په کلام باندې تعمق او غور

د یوحنا ۱۵: ۹-۱۱ ولولئ:

- د عيسی د اطاعت کولو دليل له پلاره څه شی ؤ؟
- د ټولو نه غوره کلمه په دې ایتونو کې کومه ده؟
- د اطاعت پایله څه ده؟

## اصلي مفکوره

د اطاعت کولو دپاره زمونږ سره ډېر دليلونه شته، په هر صورت، عيسی مسيح مونږ ته ښيي چې حقيقي اطاعت د زړه له کومې مينه زېږوي. عيسی، د خپل ځان سره د پلار په مينې باندې ښه پوهېده او د عيسی ځواب پلار ته، د هغه نه اطاعت کول ؤ.
دا مسئله د اطاعت کولو نوی نظر مونږ ته ښيي. مونږ د خدای پيروي نه کوو، تر څو د هغه مهرباني او مينه تر لاسه کړو، ځکه د خدای مينه پای نه لري. نو له همدې امله، هغه ته په اطاعت کولو سره خپله مينه څرګندوو. د دې اطاعت پایله به لویه خوشحالي وي.

## همدا اوس په ګډه تمرين وکړئ.

د څو شيبو دپاره وقفه وکړئ او په هغه څه باندې فکر وکړئ چې کولای شئ د هغه په سرته رسولو کې، اوس یا د دې هفتې په اوږدو کې، د څښتن مطيع اوسئ.
دلته هغه حالتونو ته اشاره کوو چې امکان لري خدای له مونږ نه وغواړي چې د هغه مطيع اوسوو:

- وخت او خپلې پيسې څنګه ولګوو.
- څنګه خبرې وکړو.
- زمونږ اړيکې باید څنګه وي.
- د نورو سره د عيسی په اړه د خبرو کولو علاقه.
- نورو ته خدمت کول یا خدمت په خپله کليسا کې.
- د خپل بدن ساتنه (د داسې کارونو په کولو لکه: خوړل، خوب، سپورت)

کوم کارونه همدا اوس یا په هفته کې، کولای شو وکړو چې خدای ته وښایو د هغه مطيع یوو؟
په کوم ډول فکر او نظر غواړئ چې د اطاعت دا ګامونه واخلئ؟
کوم کارونه کولای شئ وکړئ، تر څو خپل اطاعت کول عملي کړئ؟
په ګډه دعا وکړئ او د خپل ځان سره وعده وکړئ، چې په دې هفته کې د خدای مطيع اوسئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- په دې هفته کې، د خپل ژوند په هغه برخه کې چې د اطاعت کولو پرېکړه مو کړې ده، په نظر کې ولرئ او دا کار پیل کړئ. د د ې هفتې په اوږدو کې، د هغه پرمختک په هکله د یو بل سره خبرې وکړئ چې په نوي اطاعت کولو مو لاس ته راوړی دی.
- په دې هفته کې، د امکان په صورت، کوم خاص کار چې د اطاعت کولو ښودونکی دی، په ګډه وکړئ.
- د خپل رازونو په دې هفته کې، رومیان ۸: ۲۸ ـ۳۹ ولولئ.
    - درې طریقې په دې ایتونو کې لست کړئ چې تاسو اطاعت کولو ته هڅوي.
    - د دې دریو طریقو څخه یوه وټاکئ او د هغه په هکله په غور سره فکر وکړئ. په خاصه توګه د نوي مطیع کولو په هکله څه غوښتنه لرئ، چې خدای تاسو ته یې د اطاعت کولو دپاره بلنه درکړې ده؟

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved